مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۳/۰۵/۱۵

# مور

## هلته ده،

## چې ډېوې بليږي

مور مې دې خدای وبښي!
په دې باور وه، چې پخوا کلونه
له برکت او خير نه ډک ول، لمر به سپين ځلېده
نوسونه* پاک ول او سپوږمۍ رڼه وه
ستوري به داسي پرکېدل، لکه د ناوې په پيکي کې د ډريو ځلا
مور مې دې خدای وبښي!
هغي ويل، چې (ملانور اخند) به سپور پر ديواله ګرځېده
او (غفارجان صاحب) به سيند کې د اوبو پر سر روان پورې وت
خو د پنو پوندې يې نه لندېدې
مور به قران په دومره ځير لوسته، چې
د مشدد توري لپاره به يې ساه لنده شوه
(رشيدبيان) يې په روانه لوسته
(معراجنامې) تـه بـه يـې وژړل او نـيمـه (نـورنـامـه) يـې هـم لـه يـاده زده وه
مور به د شپې د تاوخانې له بامه
د کلي لويه هديره کې د يوازې شهيد قبر باندې
ډېوې له ورايه ليدې
هغه شهيد چې چېرته لاره کې وو غلو وژلی.
مور به د زوړ (وظيفات) ټولې وظيفې لوستلې
او لوی ارمان يې دا وو:
که هغه سپين نوراني اس يې - چې په خوب ليدلی-
د پاک رسول براق وي.
موږ ماشومانو د سالم اکا پالېز نه ول بادرنګ شکولي
مور د سنځلو يو پندوکی لاس کې
سهار، د زوړ پالېزوان کور ته ولاړه
ګوندې چې شوخو ماشومانو ته ښننه وکړي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

بیا به بادرنګ نهشکوي.
مور مې دې خدای وبښي!
نهشته، چې ویې پوښتم:
مور ې! دا اوس ولې د ستورو ځلا نه شته او سپوږمۍ خړه ده؟
ولې د لمر په مخ کې سرې کربښې د وینو ښکارې؟
مورې!
دا نن، چې هدیرې د شهیدانو له قبرو ډکې دي،
ولې پر هېڅ یوه ډیوې نهښکارې؟
مورې!
دا نن د ملانور اخند تر پښو لاندې دیوال ولې ویجاړ دی،
وران دی؟
او غفارجان صاحب دوینو په څپو کې لامبي؟
مورې خبره شوې، چې نن یې په جومات کې د قران او نورنامې پاڼې د اور خوراک کړې؟
معراجنامه په بم کې والوتله
مورې!
له لویې هدیرې څخه یو غږ راوکړه
بس دومره ووایه چې:
د ملا نور او غفار جان صاحب پر مینه رالوی شوي ځوانان
چې د پلرو په شان دوی هم سپینې پګړۍ تړلې
ولې پر ځای د کتابونو تور ټوپک ګرځوي؟
نیم یې په تور بیرغ راټول دي نیم په سپینه جنډه
او مشدد توري د یو بل په تکفیر حفظوي؟
مور مې دې خدای وبښي!
د کلي لویه هدیره کې لا د پاک رسول براق ویني په خوب، ویده ده.
او زما باور دی، چې پر هر قبر ډیوې بلې وي
بس همهغه به زما د مور قبر وي.
------------------------------------------------------------------------
*نوسونه: نفسونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ